مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د جنوري شپږمه | ۴۹۲مه ګڼه
2 017550 139621

# د شفافیت په لار کې بل خنډ؛

## د ټاکنو کمېسیون په مهمو مواردو کې له شکایتونو کمېسیون سره همکاري نه کوي




۳

قطر ته د خلیلزاد ورتګ؛ د کوم پرمختګ شونتیا شته؟

۲ مخ

د دولتونو په بریا او ناکامۍ کې د ټاکنځواک (Deep State) ونډه

۲ مخ

د قاسم سلیماني وژل کېدل؛ امریکا او ایران به جګړه وکړي؟

۳ مخ

## شاهین: خلیلزاد د سولې خبرو په موخه قطر ته رسېدلی دی

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي، د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد قطر ته رسېدلی دی.
ویل کېږي چې د دغه سفر موخه د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او طالب استازو تر منځ د سولې مذاکراتو بیا پیل دی.
دا په داسې حال کې ده چې د دغو خبرو لسم پړاو نږدې یوه میاشت وړاندې د لیندۍ په ۲۲مه په موقت ډول ودرول شو. په هغه وخت کې طالبانو اعلان وکړ، چې خبرې د دوی په غوښتنه درول شوې دي، څو له خپلو مشرانو سره سلا مشورې وکړي. وروسته له دې طالبانو دا هم تایید کړه، چې د دوی ځینو استازو د مشورو لپاره پاکستان ته سفر کړی دی. تازه په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ازادي راډیو ته ویلي: «سلا مشورې بشپړې شوې، خو وروستۍ شوې نه دي، موږ منتظر یو چې نهایي شي او توافقنامه لاسلیک شي».
که څه هم امریکا او طالبانو د مذاکراتو د بیا پیل په اړه لا تر اوسه څه نه دي ویلي، خو د طالبانو ځینې پخواني غړي وایي، تمه لري چې د سولې مذاکرات ژر پیل شي.
د طالبانو پخواني غړي سیداکبر اغا ویلي چې د طالب استازو او خلیلزاد تر منځ به د سولې مذاکرات په روانه اونۍ کې پیل شي.
هغه زیاته کړې: «د دې اونۍ په پای کې کله چې خلیلزاد قطر ته ولاړ شي، په دوو یا دریو ورځو کې به پیل شي، ممکن د سې شنبې او چهارشنبې په ورځ مذاکرات بیا پیل شي».

## د منځني ختیځ وروستي تحولات افغان سوله له ګواښ سره مخ کولای شي



۲ مخ

هېواد

۴ مخ

## لاوس

وریجې په دغه هېواد کې د کرنې د سکټور غټ محصول بلل کېږي. که وچکالي نه وي، د لاوس کرنه د ټول هېواد د خلکو لپاره خوراکي مواد برابرولی شي.



## ترانسپورټ وزارت: د افغانستان او تاجکستان تر منځ د اوسپنې پټلۍ جوړېږي



د ترانسپورټ وزارت چارواکو ویلي چې د افغانستان او تاجکستان تر منځ د اوسپنې پټلۍ د جوړولو هوکړه لیک لاسلیک شوی او ژر به یې کارونه پیل شي.
د دغه وزارت ویاند علي سینا ساید ویلي چې د دې هوکړې له مخې، ټاکل شوې چې افغانستان به د جلال الدین بلخي (کلخوز اباد) اصلي اوسپنې پټلۍ او د شبرخان بندر له لارې د (پنج پایان) له سیمې له تاجکستان سره ونښلول شي.
هغه زیاته کړې: «د افغانستان او تاجکستان تر منځ بین الحکومتي هوکړه لیک لاسلیک شو، چې له مخې به یې د رېل پټلۍ له لارې افغانستان له تاجکستان او منځنۍ اسیا سره وصل شي، دا په اقتصادي او سیمه ییز لحاظ مهم رول لري».
د دې هوکړې له مخې، د اقتصادي او تخنیکي امکاناتو د سنجولو مطالعې، د ودانۍ ډیزاین، د پنج سیند پر سر د مرزي سیمې تېردلو لپاره د پله جوړول، د شېرخان بندر اوسپنې پټلۍ تمځای او د یاد مسیر د رېل پټلۍ ودانۍ د تاجکستان له لوري تر سره کېږي.

## اتاق تجارت: به دلیل مشکل ویزا صادرات از راه لاجورد متوقف است




درحالی که بیش از یک سال از افتتاح راه لاجورد در افغانستان می‌گذرد، اما اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان می‌گوید که صادرات از راه لاجورد به دلیل مشکل ویزا متوقف است.
جان آقا نوید سخنگوی این اتاق به رسانه ها گفته است که راه لاجورد از چندین کشور می گذرد و تاجران نمی‌توانند ویزای همه این کشورها را داشته باشند.
وی افزوده است: «پیشنهاد اتاق تجارت این است که ما باید ویزای لاجورد را داشته باشیم یعنی یک ویزا بگیریم که از مسیر لاجورد به همه کشورها بتوانیم برویم، مانند ویزای شنگن و ویزای سارک که هنوز در این زمینه اقدامی نشده است».
این در حالی است که راه لاجورد از کشورهای ترکمنستان، آذربایجان، گرجستان و ترکیه می گذرد و افغانستان را با آسیای میانه، قفقاز، بالکان و اروپای مرکزی وصل می کند.
بیش از یک سال از افتتاح راه لاجورد در افغانستان می‌گذرد، اما اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری کشور می گوید که جز چند محموله امتحانی هیچ صادراتی از این مسیر صورت نه گرفته است.
حکومت افغانستان در زمان افتتاح راه لاجورد این راه را کوتاه‌ترین، ارزان‌ترین و مطمئن‌ترین مسیر برای صادرات این کشور به آسیایی میانه و اروپا خوانده بود.

Shigal English Academy
شیګل انګلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـــځ

### قطر ته د خليلزاد ورتګ؛ د کوم پرمختګ شونتيا شته؟

د افغـان سـولې لپـاره د امريـکا ځانګړی استازی زلمـی خليلزاد قطر ته رسېدلی دی او پرون يې هلته له ملا بـرادر سره لومړنی ناسته کړې ده. خليلزاد به له طالبانو سره د سولې د هوکړې تـر لاسليک وړانـدې پر اوربنـد يـا د تاوتريخـوالي پـر را کمولـو خبرې وکړي. نوموړي طالبانو ته د سولې د هوکړې د لاسليک لپـاره د لـس ورځنـي اوربند شرط ايښـی و، چـې طالبانـو پرې په خپـل منځ کـې اوږده بحثونـه او مشـورې وکـړې او اوس بـه خپـل وروسـتی دريځ لـه خليلـزاد سره شريکـوي.

په دې وروستيو کـې د سولې خبرې سړې شـوې وې، ډېرى کسـانو فکر کاوه چـې د سـولې خبرې پـه نـاوړه حالـت کـې دي. لـه همـدې امله ناهيـلي زياتېدله او ډېرو کسـانو فکـر کاوه، چې امريکا د اوربند شرط کېښـود او طالبانـو رد کـړ. پايلـه يـې دا شـوه چـې د سـولې خـبرې له خنډ سره مخ شي او ښـايي دا خنـډ او ځنـډ ډېر وخـت دوام وکـړي. اوس چـې خليلـزاد بيـا قطـر تـه ورګرځېدلـی، نـو ځينـي خلـک فکر کـوي چې ښـايي بيـا کوم پرمختـګ او بدلـون راشي. پـر دوو دلايلـو د يـوه پرمختـګ شـونتيا شـته. لومړی دا چـې طالبـان د اوربنـد او تاوتريخـوالي د کمولـو په اړه يـو مـخ منفي ځواب نه لـري، بلکـې غواړي تاوتريخوالـی کم کړي. البته د تاوتريخوالي د کمولو لپـاره ځينې شرطونه لـري. دا شرطونه او دريځ بـه له امريکايـي اړخ سره شريکوي او امريکايـي اړخ به بيا خپل دريځ روښـانوي. په دې ډول د امريـکا او طالبانـو تر منځ د اوربند مسئله يـو مخ لـه خنـډ سره نه ده مخ شـوې، بلکـې پـه دې اړه د بحث، د نظرياتو د تبادلې او جوړجـاړي شـونتيا شـته چـې له شـک پرته د خليلـزاد پـه دې سفر کـې بـه پـرې بحث وشي. د پرمختـګ دويمه شـونتيا له وروسـتيو سـيمه ييـزو بدلونونـو سره تړلـې ده. لـه ايران سره د امريکا لانجـه زياتيـږي. امريکا غواړي لـه طالبانـو سره پـه جوړجاړي په سـيمه کې ځـان لا زيات وزګار کـړي او پر ايران به تمرکز کـوي. دويـم امريـکا بـه لـه دې وېـرې هـم د افغـان سـولې پـر چـاره لا زيـات تمرکـز کوي، چـې ايـران له طالبانـو سره نظامي مرستو ته لاس اوږد نـه کـړي. لـه بلـه اړخـه پـه امريـکا کـې ټاکنې را نږدې کېږي او ولسـمشر ټرمپ پـه افغـان سـوله کـې پرمختـګ تـه اړتيـا لري چـې پـه کـور د ننه يـې د بريـا لپـاره وکاروي. لـه همـدې املـه د خليلـزاد پـه دا ځـل سفر کـې د پرمختګ شـونتيا شـته.

د خليلـزاد دا ځـل سـفر بـه هـم وروسـتی نـه وي، لا هـم خـبرو اتـرو، بحـث او چنو تـه اړتيا شـته. دا خـبرې او پـه پـای کـې معاملـه بـه وخت اخـلي، خـو دا وخـت کلونـه نـه، بلکـې مياشـتې دی. د امريـکا او طالبانـو معاملـه يا سـوله حتمـي ده، ځکـه چې دا چـاره مخامخ د امريـکا لـه ګټو سره تړلې ده. لـه يوه اړخـه د امريـکا لپاره د افغان جګړې غځول سـتونزمن دي او لـه بلـه اړخـه دا چاره د امريـکا له عامه ذهنيـت سره تړلـې او ټرمـپ بـه هڅـه وکړي، چـې دا چـاره هـم په ټاکنـو کې د خپلـې بريا لپـاره وکاروي.

# د دولتونو په بريا او ناکامۍ کې د ټاکنځواک (Deep State) ونډه

ليکنه: مشتاق رحيم

ټاکنځـواک (Deep State) د هيوادونـو پـه سـياسي جوړښـت کـې هغـې غير انتخابي ډلـې تـه ويـل کيږي، چـې د يو دولـت د سـياسي صحنـې پـه بطـن کـې پـه پټـه فعاليـت کـوي. دا ډلـه چـې پـه دولـت کـې د ننـه دولـت (state within a state) يـې هـم بـولي، د هيـواد پر حساسـو پرېکـړو، پاليسـيانو او سـترو سـياسي ليدلوريـو بانـدې ژور اغېـز لـري او پرېکـړې ډېـرى وخـت د عـام ولـس د غوښـتنو پـر ځـای، پـه خپلـه خوښـه را ځرخـوي. د ټاکنځـواک دنده پـه بېلابېلو هيوادونـو کې بېلابېلې ډلـې، اداري او يا هم غير رسـمي جوړښـتونه مخ ته وړي او پـه عـصري نـړۍ کـې د پخوا پـه څېر پټ هـم نـه دي پاتـې.

د نـړۍ تـر ټولـو سـتر ټاکنځـواک دا مهـال پـه امريـکا کـې فعاليـت کـوي. امريـکا چـې د نـړۍ نظامـي او اقتصادي زبرځـواک دی، سره لـه دې چـې پيـاوړی سـياسي نظـام، فعالـه ډيموکـراسي او باخـبره ټولنـه لـري، خـو هلتـه هـم ټولې پرېکـړې هغسـې چـې بايـد يـوه آيډيالـه، ډيموکراټيکـه اداره يـې وکـړي، نـه شي کولـی. د دغـه هيـواد پـه پرېکـړو کـې د دولـت د ننـه دولـت پـه حساسـو او مهمو پرېکـړو کـې مخکښ او پرېکنـده رول لـري. پـه عمومـي توګـه پـه توافـق سره داسـې يـو فکر شـته، چـې سـتر شرکتونه او کمپنـۍ د امريـکا ټاکنځـواک دی. د امريـکا پـه سياسـتونو کـې ډېـرى وخـت د وال سـټريټ (Wall Street) چـې د امريـکا د سـوداګريزو اسـهامو بـازار دی يـا سـليکون ويـلي چـې د معلومـاتي ټکنالـوژۍ مرکـز د دې دولـت پـر پرېکـړو ژور اغېـز لـري. ځينـې بيـا پـه دې نظر دي چـې دا د امريـکا اسـتخباراتي اداره (CIA) ده، چـې د ټاکنځـواک رول لوبـوي او آن پـر ازاد بـازار هـم دوی ژور اغېـز لـري؛ خـو کـه پـه ځيـر سره وکتـل شي، دا جوتېـږي چـې د امريکا د ټاکنځـواک دنـده د دغـو دواړو کتلـو يـا لوبغـاړو پـه لاس کـې ده، چـې د دې شراکـت مشري د آزاد بازار سـتر سـوداګر کـوي. همـدوی دي چـې پـه کـور د ننـه او پـه نړيوالـه کچـه د امريکا د سياسـتونو ليـد ټاکـي.

کـه د سـيمې پـه کچـه وکتـل شي، نـو پاکسـتان هغـه هيـواد دی چـې پکـې د ټاکنځـواک فعاليـت فـوق العـاده ځرګنـد دی. د پاکسـتان ټاکنځـواک پرتـه لـه شـک او شـبهې د دغـه هيـواد اسـتخباراتي اداره (ISI) ده. سره لـه دې چـې پـه دغه هيـواد کـې د ډيموکراسـۍ پـوره تمثيـل کيـږي، خـو سـترې پرېکړې او حسـاس مسـايل د دې اداري په خوښه مديريـت کيـږي. همـدا راز د هندوسـتان بيوروکـراسي د دغه هيـواد چارې د پردې تـر شـا مديريت کـوي او اجازه نـه ورکوي چـې حکومتونـه دې د حکومتولـۍ پـه بڼـه کـې راډيـکال يـا بنسـټيز بدلونونـه راولي. د ټاکنځـواک دنـده پـه ايران کې اخنـدان يـا د مذهبـي مشرانـو ډلـه چې شـورای نګهبـان يې بولي، مخ ته وړي او پـه چيـن کـې دا کار د چيـن کمونيسـت حـزب تـر سره کـوي. د ايـران او چيـن ټاکنځـواک بيـا د دولـت برخـه ګرځېدلی او اړتيـا نـه لـري چـې لکـه د امريکايـي دولـت کـې د ننـه دولـت رول پـه پټـه ولوبـوي او يـا هم لکـه د پاکسـتان چېرته چـې آی ايـس آی د سياسـيونو وجـود د خپلـو چـارو د تـر سره کولو لپـاره کاروي.

پـه نړيواله کچه د سياسـت علماوو تر منځ يـو بحث دا مطرح دی، چـې ټاکنځواک ښـه دی که بد؟ او آيا دا مناسـبه ده چې يـوه خاصـه کتلـه د يـو هيـواد د وګـړو د غوښـتنو برخـلاف، پـه خپلـه خوښـه د هيوادونـو چـارې را وځرخـوي؟ ځينـي آيډيـال پـال پـه دې نظـر دي چـې ډيـپ سـټيټ يـا ټاکنځـواک د يـو هيـواد د ولس د غوښـتنو برخـلاف، د يـوې ځانګړې ډلـې د غوښـتنو او ګټـو پـر خونـدي کولو کار کـوي او پـه دې دليـل يـې مخالفـت کـوي. بلـه ډلـه بيـا پـر دې نظـر ده چـې د دولـت پـه بـدن کـې دې داسـې يـوه ډلـه وي چـې د هيـواد بنسـټونه وسـاتي، د هيـواد د شـتون او پايښـت د پياوړتيـا پـه برخـه کـې د فعالـه و اوسـي او کـه کله لـه سياسـيونو څخـه، چـې د عوامـو پـه خوښـه فعاليـت کـوي، ناسـمې چـارې تر سره کيـږي، نـو يـو ځـوک بايـد وي چـې د دغـو چـارو يـا پرېکـړو د جبران ځـواک ولـري. پـه ډيموکراټيکـو ټولنـو کـې چـې ډېـرى وخـت سياسـيون د خپلـو ملاتـړو د خـوښ سـاتلو پـه تـکل کـې وي او د دغـه ملاتـړ د راجلبولـو لپـاره د هيـواد په کچـه سـتراتيژيکو تاوانونـو تـه هـم چمتـو وي، اړينـه ده چـې يـو بـل ځـواک چـې ټاکنځـواک بلـل کيـږي، د دغـه ډول کړنو مخـه ډپ کـړي چـې د سـياسي ګټـې له کبلـه سـتر ملي تـاوان ونـه زيـږوي. پـه دې لـړ کـې امريکايـي سياسـتپوه فرانسـس فوکويامـا د وال سـټريټ ژورنـال لپـاره ليـکل شـوې يوه مقاله کـې کاږي، چـې د امريکا د ډيموکراسـۍ بقا د دغه هيواد د بيوروکراسـۍ له خوا د ټاکنځواک په رول لوبولـو کـې ده. فوکويامـا اسـتدلال کوي چـې پيـاوړې او لـه سـياسي فشـارونو څخـه خونـدي بيوروکـراسي کـولای شي چـې د وخـت د حکومتونو او ولسـمشرانو د هغـو پرېکـړو مخـه ډپ کـړي، چـې د هيـواد پـه زيـان تماميـږي.

د هيوادونـو پـه سـياسي ثبـات، پرمختـګ، د کورنيـو او بانديو ننګونـو پـه مقابـل کـې د بـري يـا ناکامـۍ انحصـار تـر ډېره بريـده د هيوادونـو د ټاکنځـواک پـه کـړو وړو او برخوردونـو پـورې اړه لـري. کـه د يو هيـواد ځانګـړې ډلـه چـې پـه دولت کـې د ننـه دولـت دنـده يې پـه غـاړه ده، خپلو شـخصي او ډلـه ييـزو ګټـو تـه د هيوادنيو او مـلي ګټـو پـه پرتله لومړيتـوب ورکـړي، نـو بيـا هيـواد لـه جـدي سـتونزو سره مخ کـوي. پـه دې لـړ کـې د پاکسـتان پـوځ او اسـتخباراتي اداره ډېـره روښـانه بېلګـه ده، چـې هيـواد يـې له جوړېـدو راپدېخوا لـه ډېرو جـدي سـتونزو سره مخامخ کـړی او د همـدوی د ناسـمو کړنـو لـه امله دغه هيـواد پـه ۱۹۷۱ ز کال کـې دوې ټوټـې شـو. بلخـوا بيـا د چيـن کمونيسـت حزب دی چـې هيـواد يـې د نـړۍ پـه کچـه پر زبرځـواک بـدل کـړ او لا هـم پـه چټکـۍ سره پـر مخ روان دی.

افغانسـتان هـم د خپـل تاريخ پـه اوږدو کـې پـه دولت کـې د ننه دولت درلودلی او يـوه ځانګـړې ډلـه چـې پـه دې برخـه کـې ډېره بـارزه او پيـاوړې را ځرګندېږي، هغـه د مذهبـي علـماوو او روحـاني مشرانـو ده. د تاريخ پـه اوږدو کـې دوی د افغانسـتان پـر چـارو بانـدې ژور اغېـز درلودلـی او د هيـواد کړنـلارې او تګلارې د دوی پـه خوښـه چمتـو شـوې او کـه کلـه د هيـواد چـارې د دوی لـه ليـد سره سـمې نـه دي برابـرې شـوې، نـو دوی آن نظامونـه چپـه کـړي دي. همـدا لامـل و چـې عبدالرحـمان خان سره لـه دې چې مذهبـي سـړی نـه و، خـو خپلـو کړنلارو او پاليسـيانو تـه يـې مذهبـي رنـګ ورکولـو چـې دې چـارې ورسره د خپـل واک پـه غځولـو او چلولـو کې مرسـته وکـړه. بلخوا بيـا د امير امان الله خان بېلګـه ده چې د وخـت ټاکنځـواک يـې د ځـان سره ونـه شـو سـاتلی او پـه پـای کـې يـې واک وبايللـو.

پـه اوسـني افغانسـتان کې جنګسـالارانو او جګـړو زيږوليـو رهبرانـو ځـان د مذهب پـر جامـه پوښـلی او دا راز پـه دولـت کـې د ننـه پـر دولـت بـدل شـوي دي. پـه افغانسـتان کـې د پرېکنـده رول درلودونکـې ډلـه تـر ډېـره بريـده مذهبي نـه ده، خـو دا چـې پـه افغانسـتان کـې اوس هـم مذهبـي ډلـې د واک سرچينـه ده، دا کتلـه د دې سرچينـې د اسـتازي پـه توګـه د هيـواد چـارې په خپله خوښـه ځرخـوي او عيـاروي.

کـه دا بحث يـوې خـوا تـه پرېـږدو چـې د ټاکنځـواک درلودل ښـه دي او يا بد او دا ومنـو چـې پـه هـر حـال کـې د دغـه ډول يـو ځـواک شـتون د يـو هيـواد د ثبـات لپـاره اړيـن او مهـم دی، نـو بيـا اړينـه ده چـې وکتـل شي، هغـه کوم جوړښـت دی چـې پـه يـو هيـواد کـې برلاسـی دی او د يـو ملت د پيـاوړي کولـو او لـه ننګونـو څخـه د ژغورلـو دنـده پـه څـه ډول مخ تـه بيايـي. د دغـو جوړښـتونو لـه پېژندلـو وروسـته، د ملت نخبه ګان او تيوريسـنان بايـد پـر دې کار وکړي چـې څنګه کولای شي نامعقولـه او ځـان خوښـې ډلـې او کتلـې کمـزورې کـړي او ورتـه مناسب ځـای ناسـتی پيـدا کـړي.


د افغانسـتان پـه قضيـه کې له بـده مرغه نـه حکومـت، نـه علمـي سـټو، ځوانـو کدرونـو او نـه هم مـلي شخصيتونو هڅه کـړې چـې د افغانسـتان د ټاکنځـواک د ځـواک ارزونـه وکـړي او کـه چېـرې دغـه کتلـه د افغانسـتان پـه خير نـه وي، نـو د دوی د کمـزوري کولـو لپـاره کار وکـړي او يـو مناسـب بديـل ورتـه پيـدا کـړي. د اوس لپـاره دا خـورا ځرګنـده ده چـې د افغانسـتان پـر چـارو حاکمـه ډلګـۍ چې د کورنيـو جګـړو زيږنـده ده، د هيـواد د خيـر پـر ځـای د خپلـو شـخصي او د ډلـو د ګټـو د خونـدي کولـو پـه تـکل کې دي. پـه همـدې دليـل، اړينـه ده چـې پـه افغانسـتان کـې د هيـواد د پياوړتيـا او سياسي نظـام د تقويـې لپـاره پـر يـو مناسـب بديـل کار پيل شي. دا يو اسـانه مـزل نـه دی، اوږد واټـن، اغزنـه لار او لـه ننګونـو څخـه ډک بهيـر دی، خـو د افغانسـتان د راتلونکـي د ژغورنـې لپـاره اړيـن حرکـت دی.

## اروپايي ټولنه: د منځني ختيځ وروستي تحولات افغان سوله له ګواښ سره مخ کولای شي

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې استازي رولنډ کوبيا ويلي چې په عراق کې وروستي تحولات کولای شي، چې د افغانستان سوله له خطر سره مخ کړي. هغه په خپل يو تازه ټويټ کې ويلي، د افغانستان سوله نه يوازې د دغه هېواد، بلکې د سيمې او نړۍ په کچه يوې ژورې حللارې ته اړتيا لري.

کوبيا اندېښنه ښودلې چې د عراق پېښنه کولای شي د افغانستان د سولې پروسې لوری بدل او دغه پروسه له خطر سره مخ کړي. د ده په خبره، افغانستان پر سياسي واک ټينګار کوي چې په خبره يې په اوس وخت کې دا لوبه ډېره ښه نه ده.

که څه هم افغان حکومت په دې برخه کې له تازه څه ويلو ډډه کړې، خو ورمه ورځ د افغان ولسمشر دويم مرستيال سرور



دانش په يوه غونډه کې د خپلو خبرو پر مهال په عراق کې د قاسم سليماني وژل کېدو ته په اشارې ويلي وو، چې په سيمه کې هر له تاوتريخوالي ډګ هر ډول چلند کولای شي د سيمې او نړۍ سوله له خطر سره مخ کړي.

هغه ويلي: «د سيمې په کچه هر ډول پېښه کولای شي د سيمې په هېوادونو او نړۍ کې تاوتريخوالی زيات کړي، موږ او سيمه د سولې له پروسې څخه لرې کړي، موږ په دې برخه کې د خواشينۍ او اندېښنې تر څنګ، له ټولو خواوو نه د زغم هيله لرو».

دغه اندېښنې په داسې حال کې راپورته کېږي، چې د ايران د سپاه پاسداران د قدس ځواکونو قوماندان قاسم سليماني د جنوري په درېيمه د بغداد هوايي ډګر ته نږدې د امريکا د هوايي ځواک په بريد کې ووژل شو، چې تر هغې وروسته د ايران او امريکا تر منځ اړيکې لا ترينګلې شوې.

د دې پېښې په تړاو د جمعې په ورځ ولسمشر غني هم د يوه ټويټ له لارې له ډيپلوماټيکو لارو د امريکا او ايران تر منځ د روان کړکېچ د حل هيله ځرګنده کړه او ويې ويل چې په سيمه کې د کړکېچ د پراخېدو له احتمال څخه اندېښنه لري.

دا په داسې حال کې ده چې د زلمي خليلزاد د خبرو پر بنسټ، د افغانستان د سولې په روانو خبرو کې تر بل هر وخت زيات پرمختګ شوی او تازه د امريکايانو او طالبانو تر منځ د سولې بل پړاو خبرې چې برخليک ټاکونکې هم ښودل شوې، په قطر کې پيلېدونکې دي.



# د قاسم سلیماني وژل کېدل؛ امریکا او ایران به جګړه وکړي؟

بي بي سي- پښتو

په عراق کې د ایران د دویم مهم پوځي مشر قاسم سلیماني تر وژل کېدو وروسته، په منځني ختیځ کې د شنونکو له خوا د ممکنه جګړې د پیلېدو خبره ډېره لاس په لاس کېږي، په تېره بیا کله چې ایران د خپل وژل شوي قوماندان د غچ اخیستو ګواښ وکړ.

ان ځینې بیا اټکل کوي چې په منځني ختیځ کې د جګړې پیلېدل ښایي درېیمې نړیوالې جګړې ته لاره هواره کړي.

په عربي نړۍ کې د «درېیمې نړیوالې جګړې» خبره تر ټولو ډېره پر خواله رسنیو لاس په لاس شوې او په ګوګل کې د سلیماني د وژل کېدو خبر ډېر لټول شوی دی.

د درېیمې نړیوالې جګړې وړاندوینې ځینو کسانو په ټوکمار انداز د نړیوالې جګړې د پیلېدو کارټونونه جوړ کړي دي.

په منځني ختیځ کې د هر کړکېچ له رامنځ ته کېدو سره پر خواله رسنیو دا پوښتنه راپورته کېږي، چې ایا د درېیمې نړیوالې جګړې پیلامې ته لار هوارېږي؟ دا پوښتنه د قاسم سلیماني تر وژل کېدو وروسته ډېره مطرح کېږي، نو ایا د هغه تر وژل کېدو وروسته به د نړیوالې جګړې شونتیا ډېره شي؟

د بي بي سي د دفاعي چارو د خبریال جنتن مارکس په اند، ځواب یې دا دی چې نه. دا کړکېچونه به درېیمې نړیوالې جګړې ته لار هواره نه کړي.

ښاغلي مارکس ویلي: «د روسیې او چین په څېر مهم هېوادونه د نړیوالې جګړې لامل کېدای شي، چې دواړه په دې کړکېچ کې ځان نه ښکېلوي».

کارپوهان اټکل کوي چې ایران به هېڅکله له امریکا سره د ماشې تر کشولو ونه رسېږي چې په سیمه کې پراخه جګړه پیل شي.

نو د ایران غبرګون به څه وي؟ ایا یوې پرانیستې جګړې ته به ننوځي او که د خبرو له لارې به ستونزه حل کړي؟

د برېټانیا د ملي امنیت پخواني سلاکار پیټر ریټکس له بي بي سي سره په خبرو کې د ایران - امریکا پوځي مخامختیا لرې بللې ده.

هغه دغه راز ویلي: «باور نه کوم چې امریکایان او ایرانیان دې پراخه جګړه پیل کړي، خو د قاسم سلیماني وژل ستراتیژي نه ګڼل کېږي، باوري یم چې دې کار ټول اندېښمن کړي دي».

هغه زیاته کړې: «د امریکا دې برید ایران ته په منځني ختیځ کې پر ټولو لوېدیځو موخو بریدونو ته لار هواره کړه».

خو خبریال محمد مجید الاهوازي بیا ویلي، چې ایران اوسنیو شرایطو ته په کتو د پراخې جګړې د پیلولو توان نه لري.

په ورته وخت کې د ایران په اړه د عربي څېړنیز مرکز مشر محمد صالح صادقیان په دې اند دی، چې د امریکا- ایران مخامخ کېدل به دواړو هېوادونو ته په ډېره لوړه بیه تمامه شي، چې ناوړه پایلې به ولري.

هغه دغه راز ویلي: «د امریکا د برید په غچ اخیستلو کې به ایران بېړه ونه کړي، خو ژر به یې وکړي».

بلخوا، سیاسي شنونکی او خبریال عبدالباري عطوان وایي چې تر دې مخکې د ایران په نیابت بریدونه شوي، لکه د سعودي د تېلو پر ارامکو شرکت او یا په هورمز تنګي کې د امریکایي بې پیلوټه الوتکې راغورځول او داسې نور.

د امریکا او ایران تر منځ د کړکېچ له دغه نوي پړاو وروسته، امریکا منځني ختیځ ته د ۳۰۰۰ سرتېرو استولو اعلان کړی، خو خپلو وګړو ته یې له عراقه د وتلو سپارښتنه کړې چې دا هم په راتلونکې کې د ناوړه وضعیت ښکارندویي کوي.

عطوان په دې اند دی چې ښایي ایران د امریکا د دغه اقدام په ځواب کې پر اسراییلو هم بریدونه وکړي.

دغه راز د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ورمه ورځ وویل چې هېواد یې له ایران سره د جګړې په هڅه کې نه دی، خو په خبره یې، واشنګټن د ایران ټولو ګواښونو ته چمتو دی.

د پامپیو له دغو څرګندونو وروسته، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ایران ته خبرداری ورکړ چې که د امریکا له خوا د وژل شوي جنرال قاسم سلیماني په غچ اخیستنې لاس پورې کړي، نو له خورا چټک او ځپونکي ګوزار سره به مخامخ شي.

ښاغلي ټرمپ ویلي، چې امریکا به د ایران د برید په ځواب کې ۵۲ ایرانۍ موخې په نښه کړي.

# د شفافیت په لار کې بل خنډ؛

## د ټاکنو کمېسیون په مهمو مواردو کې له شکایتونو کمېسیون سره همکاري نه کوي




د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د زرګونو شکایتونو ارزونه پیل کړې ده، خو تازه شکایت کوي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ورسره په ځینو مواردو کې همکاري نه کوي. سره له دې چې د شکایتونو کمېسیون له ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون سره د ښو اړیکو خبره کوي، خو وایي چې د رایو ډېټابېس ته په لاسرسي کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون همکاري نه ورسره کوي. د شکایتونو کمېسیون وایي چې د رایو د شمېر او بایومټریک شوو رایو په اړه زرګونه شکایتونه ثبت شوي او دوی دغو شکایتونو ته د قانع کوونکي ځواب لپاره اړ دي چې د رایو ډېټابېس ته لاسرسی ولري. د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي، دوی له ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون سره د قانون په چوکاټ کې هر ډول همکارۍ ته تیار دي.

پرون د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون غړو په یوه خبري غونډه کې په خپلو چارو کې د پرمختګونو په اړه معلومات ورکړل. د دغه کمېسیون غړو وویل چې په ۳۱ ولایتونو کې زرګونه شکایتونه کټه ګوري شوي دي او څېړنه یې پیل شوې ده. د دوی په خبره، د هېواد په ۳۱ ولایتونو کې ۳۲۷۲ شکایتونه د ټاکنیزو جرمونو، ۴۳۰۳ شکایتونه د ټاکنیزو سرغړونو او تخلفاتو په تړاو او پاتې ۱۳۷۱ شکایتونه د ټاکنیزو تېروتنو په اړه دي.

د شکایتونو کمېسیون رییسه زهره بیان شینواري وایي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون له دوی سره د درملوګ کمپنۍ معلوماتي بانک نه دی شریک کړی. د نوموړې په خبره، دوی د رایو د تفکیک او شمېر د تثبیتولو لپاره دغو معلوماتو ته لاسرسي ته اړ دي او که کمېسیون همکاري ونه کړي، نو ښایي کار یې له ځنډ او خنډ سره مخ شي. د نوموړې په خبره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون له دوی سره تر دې دمه په یاده برخه کې همکاري نه ده کړې او دا چاره د دې سبب شوې، چې په دې تړاو د ثبت شوو شکایتونو د څېړنې پروسه ټکنۍ پر مخ لاړه شي.

شینواري بیا همدار زا وویل چې دوی خپلې چارې په پوره شفافیت مخ ته وړي او په خبره یې، د هېڅ لوري ملاتړ به ونه کړي؛ بلکې ټولو شکایتونو ته به په بې طرفه توګه رسیده‌ګي وکړي. د شینوارې په خبره، که د ټاکنو خپلواک کمېسیون په اړینو مواردو کې همکاري ورسره وکړي، نو دوی به په ټاکلې نېټه کې ټول شکایتونه وڅېړي او همدا راز به پر دې بریالي شي چې خپله پرېکړه په خپل وخت اعلان کړي.

د شکایتونو کمېسیون یو بل غړی هم پر دې ټینګار کوي، چې د ځینو شکایتونو د څېړنې لپاره باید د معلوماتو مرکزي بانک ته لاسرسی ولري. د دغه کمېسیون غړي او ویاند قاسم الیاسي وایي: «ځینې شکایتونه جدي دي، په اړه یې باید مرکزي سیسټم ته مراجعه وشي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکي په دې اړه همکاري نه کوي».

بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي چې دوی د قانون په چوکاټ کې هر ډول همکارۍ ته تیار دي. د دغه کمېسیون یو ویاند عبدالعزیز ابراهیمي وایي: «د قانون په چوکاټ کې موږ تیار یو چې د ټاکنیزو شکایتونو له خپلواک کمېسیون سره همکاري وکړو».

د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون ورمه ورځ هم ویلي وو، چې زرګونه شکایتونه ورته ثبت شوي چې له دې ډلې د څه باندې اتو زرو شکایتونو څېړنه ضروري ده او پر لومړنیو پایلو به اغېز ولري. پر ټاکنو څارونکي بنسټونه هم وایي چې که کمېسیون په سمه توګه د شکایتونو څېړنې ته پاملرنه وکړي، نو پر لومړنیو پایلو ښایي اغېز وکړي او ټاکنې دویم پړاو ته لاړې شي.

### د سلیماني تر وژل کېدو وروسته؛

# د عراق پارلمان په بېړنۍ توګه له دغه هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو پرېکړه وکړه



د عراق پارلمان د تېره ورځ له دغه هېواده د امریکایي ځواکونو د وتلو په تړاو پرېکړه لیک تایید کړ.

پارلمان دا پرېکړه وروسته له هغې کوي چې درې ورځې وړاندې امریکا د ایران د قدس ځواک مشر جنرال قاسم سلیماني د بغداد هوایي ډګر ته نږدې په یوه هوایي برید کې ووژه.

د پارلمان لخوا په منظور شوي پرېکړه لیک کې له حکومته غوښتنه شوې چې د عراق خاوره، هوایي حریم او سمندري بریدونه نور پرې نه ږدي چې د بهرنیو ځواکونو لخوا وکارول شي.

دا په داسې حال کې ده چې امریکا اوسمهال په عراق کې شاوخوا پنځه زره پوځیان لري، چې ډېری یې پوځي سلاکاران دي.

تر دې وړاندې د امریکا په مشرۍ د داعش ضد ائتلاف او ناټو هم د عراقي ځواکونو د روزنې پروګرام ځنډولی دی.

رویټرز خبري آژانس د جرمني پارلمان ته د جرمني د یوه جګپوړي پوځي چارواکي د لیک په حواله راپور ورکړی، چې د امریکا د پوځ جګپوړي قوماندان جنرال پت وایټ په عراق کې د ډېره امریکایي ځواکونو د خوندیتوب په موخه دا پرېکړه کړې ده.

جرمني جنرال ایریخ پفیفر د پارلمان د پوځي او بهرنیو چارو د کمېټو غړو ته په یو لیک کې لیکلي، چې په ټول عراق کې د امنیتي او دفاعي ځواکونو د روزنې پروګرام ځنډول شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا په مشرۍ د داعش ضد ائتلاف په چوکاټ کې شاوخوا ۱۲۰ جرمني پوځیان هم پر دنده بوخت دي.

د رویټرز خبري آژانس د راپور له مخې، د ناټو یوه ویاند هم د عراق د امنیتي ځواکونو او پوځ د روزنیز پروګرام د ځنډېدو خبر تایید کړی دی.

د یادونې ده چې قاسم سلیماني د سپاه پاسداران د قدس ځواک قوماندان و. دغه ځواک په بهر کې د ایران د نفوذ د پراختیا لپاره خورا مهم ځواک ګڼل کېږي.

قدس په منځني ختیځ کې د ایران پلوو وسله والو ملېشو په ملاتړ او روزنه کې مهمه ونډه لري او متحده ایالتونو د نړیوالو تروریستي ډلو په لېست کې شامل کړی دی.

پر جنرال سلیماني له برید وروسته، د ایران پلوو وسله والو ډلو پلویانو په بغداد کې د امریکا د سفارت مخې ته لاریونونه وکړل او د دغه سفارت ځینې برخې یې هم وسوځولې.

په ورته وخت کې تازه د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف ویلي، چې په لوېدیځه اسیا کې د امریکا ناوړه شتون پای ته رسېدلی دی.

هغه ویلي چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ایران د قدس ځواکونو د مشر قاسم سلیماني په وژلو سره نړیوال قوانین تر پښو لاندې کړي دي. نوموړي یو ځل بیا ګواښ کړی چې دوی به د سلیماني د وژنې په غبرګون کې چوپ پاتې نه شي. ظریف د خپلو خبرو پر دوام ویلي، که امریکا هر څومره خپل بار د نورو پر اوږو وراچوي او هر څومره چیغې ووهي، حقیقت دا دی چې نور په لوېدیځه اسیا کې د دغه هېواد ناوړه شتون پای ته رسېدلی دی.

## د کتاب خبرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ ليکوال: ابوبکر صديق

◎ ژباړن: اقامحمد قريشي

**څلورمه برخه**

**پایله**

### یوولسم څپرکی




پاکستان باید د عرب پسرلي او ترکي تکامل دواړو څخه زده کړه وکړي. د پاکستان په څېر ترکیه هم په سیاست کې د نظامي لاسوهنو تاریخ لري. ترکیه له اقتصادي اړخه پر نورو بسیا وه او له خپلو گاونډیانو سره یې ښې اړیکې نه لرلې، خو د لومړي وزیر رجب طیب اردوغان تر مشرۍ لاندې ترکیه د ولسواکۍ د زده کړې د مثالي موډل په توگه راڅرگنده شوه. په اقتصادي برخه کې یې پرمختگ پیل کړ، له واشنگټن سره یې اړیکې وغزولې او په ناټو کې یې هم غړیتوب واخیست. ترکیه په بهرني سیاست کې د عدالت او پرمختیا پر بنسټ له خپلو گاونډیانو سره هېڅ ستونزه نه جوړوي. د ترکیې موډل موږ ته راښیي، دا هېواد غواړي چې د عصریتوب په کلتور، ولسواکۍ او اقتصادي پیاوړتیا کې لوی گامونه پر مخ یوسي. عرب اسلام پال، د مصر د اخوان المسلمین او تونسیه النهده (رنسانس غورځنگ) وایي چې ترکیې ته د یوه لارښود په سترگه گوري. په پاکستان کې ډېرې اسلام پال مشران هم د القاعدې او پاکستاني طالبانو د افراطیت گواښونه درک کوي. د هغوی مسئولیت دا دی چې د خپلواکو سیاسي حرکتونو په توگه را څرگند شي، ځکه هغوی ته د پوځ د لاسپوڅو په سترگه کتل کېږي. که غواړي په ټاکنو کې اړین رول ولوبوي نو باید عملي حل لارې وړاندې کړي.

**د افغانستان راتلونکی**

افغانستان له یوې حساسې ټاکنې سره مخ دی. یا به یو بل ته د سولې په پار او د ملي یووالي پر بنسټ غاړه ورکوي، خپل هېواد به پر پښو دروي او یا به د ناټو له بشپړو وتو سره سره یو ځل بیا کورنۍ جگړې ته ځي. کله چې طالبانو په ډاگه له لویدیځو اړخونو سره د سولې په موخه خبرې کولې، ښیي چې هغوی ځان ته چارې پر مخ وړي. د ۲۰۱۲ز کال په اکتوبر کې، د وروکي اختر د مبارکۍ پر مهال ملا محمدعمر د طالبانو د ارادې ډاډ ورکړ، خو د تحریک پر بنسټیزو موخو یې لا هم ټینگار وکړ. هغه وویل:

((د هېواد سیاسي راتلونکي ته په کتو سره، باید جوته کړو، موږ نه غواړو چې بشپړ انحصاري حکومت جوړ کړو، نه هم د یوې بلې کورنۍ جگړې د پیل په فکر کې یو. غواړو چې افغانان د نړیوالو قدرتونو او گاونډیانو له لاسوهنو پرته خپل سیاسي راتلونکی په خپله وټاکي. راتلونکی نظام به اسلامي او افغاني وي. د الله ج په مرستې سره به، د بهرنیانو له وتلو او بشپړې خپلواکۍ سره یو ځای، یو اسلامي سیاسي نظام جوړ کړو. یو ځواکمن مرکزي حکومت به جوړ کړو چې هېڅ توپیر پالنه او تبعیض پکې نه وي. امنیت به راولو، د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا حیثیت به وساتو، اسلامي شریعت به پلی کړو او د حکومت دندو ته به د وړتیا له مخې کسان وگمارو.

د خپل هېواد اقتصادي بنسټونه ورغوو. د اسلامي شریعت او ملي گټو په چوکاټ کې به ټولو هېوادوالو ته پوهنه ورسوو. اکاډمیکي او کلتوري چارې به هم په اغېزناکه توگه مخکې یوسو او د خپلو زړورو خلکو په مرسته به هېڅکله هم کورنۍ جگړې او د افغانستان وېشلو ته اجازه ورنکړو. هېڅوک دې افغانانو ته په ساده سترگه نه گوري چې په اسانۍ سره به د هغوی دیني، کلتوري، ټولنیز او تاریخي ویاړونه او ارزښتونه مات کړي. د ټولو هغو هېوادونو درناوی به وکړو چې افغانستان ته په درنه سترگه گوري او زموږ د هېواد خپلواکۍ او استقلال ته زیان نه رسوي. دا هغه څه دي چې هر خپلواک مسلمان افغان یې غواړي.))

دا بیانیه هغه څه وړاندې کوي چې هر افغان یې هیله لري. په ځایي سیمو په ځانگړې توگه په پښتون مېشتو سیمو کې دښمنۍ تل دې پایلو ته رسېدلې چې جگړه هېڅ د شخړې حل نه شي کېدی. په ۱۹۹۰ز لسیزه کې د همدې شخړو په پایله کې کورنۍ جگړه پیل شوه. هغه چې په ۱۹۸۰ز لسیزه کې د روسانو پر وړاندې جنگېدلي وو، هم پوه شول چې جگړه د حل لاره نه ده، ځکه نو د حامد کرزي په اداره کې سره یو ځای شول. طالبان هم د افغانانو په اراده پوهېږي، ځکه به د سولې په پار د مذاکراتو لور ته لاړ شي. خو دا هرڅه هغه مهال جوتېږي چې مذاکراتو ته تر اېډیولوژۍ لوړ فکر وشي.

طالبان هم له گونگ برخلیک سره مخ دي. د جگړې پر مهال یې چې کومې وینې تویې کړې، پر ضد یې خپله پښتانه هم راپورته شوي. په ۲۰۱۲ز کال، غزني ولایت کې د طالبانو په لیکو کې د پاکستانیانو د شتون له کبله خلکو د هغوی پر ضد پاڅون وکړ. په بلوچستان کې مېشت طالب مشران هم پر خپلو سیمو کې له مخالفتونو سره مخ دي، ځکه نو د بشپړې مشرۍ دعوه نشي کوی. کندهاري طالبان د حقاني شبکې له القاعدې او پاکستاني طالبانو سره د اړیکو په خاطر گواښونه ورته کېږي، ځکه نو په یوه مشروع سېستم کې له راتلو سره ښایي یو ځای شي.

د طالبانو پر وړاندې یو بل گواښ پر رهبرۍ باندې د هغوی د مشرانو له یو بل سره سیالۍ دي. د کلونو جگړې په ترځ کې یې ډېرې مشران له منځه تللي. د تحریک مشر ملا محمدعمر وروسته له هغه چې د ۲۰۰۱ز کال په ډسمبر کې له کندهار څخه ووت، ان ځینو مهمو طالب مشرانو هم نه دی لیدلی. هغه اعلامیې چې د هغه په نوم خپرېږي، د کوټې شورا له لورې چمتو کېږي. د ملا محمدعمر په ښکاره د رهبرۍ کولو په تړاو ډېر شکونه موجود دي، که څه هم د نورو سازمانونو په پرتله طالبان په خپلو کې سره متحد دي، خو د بریا نامعلوم برخلیک یې پر وړاندې ستراتیژیکه کمزوري گڼل کېږي. **دوام لري...**

# لاوس

حشمت الله نوري

لاوس د جنوب- لوېديځې آسيا د هند و چين په ټاپووزمه کې د تايلنډ او ويتنام تر منځ د شمالي عرض البلدونو د ۱۴ او ۲۲ او د ختيځ طول البلدونو د ۱۰۰ او ۱۰۸ درجو تر منځ موقعيت لري.

د لاوس شمال ته د چين ولسي جمهوريت، جنوب ته کمبوديا، ختيځ ته ويتنام او لوېديځ ته يې تايلنډ موقعيت لري.

دغه هېواد په عمومي توگه تود او لږ لوند اقليم لري. د دغه هېواد د جنوبي برخو هوا بيا وچه ده. لاوس د طبيعي جوړښت له پلوه پر دوو برخو وېشل شوی دی، شمالي غرنۍ سيمې او منځنۍ او جنوبي هوارې برخې چې ډک سيندونه لري او پر گڼو ځنگلونو پوښلې دي. د دغه هېواد د هوارو سيمو ځنگلونه لوېديځ لوري ته خپل گڼوالی له لاسه ورکوي او د ميکانگ سيند په لوېديځ کې پای ته رسيږي.

د دغه هېواد پلازمېنه وين تيان ښار دی او ټولټال څه باندې اووه ميليونه نفوس لري، چې په هر کيلومتر مربع سيمه کې يې ۲۸ سکان ژوند کوي.

د لاوس ۴۰ سلنه وگړي په ښارونو او پاتې ۶۰ سلنه نور يې په کليو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې يوازې د دريو ماشومانو د درلودو حق لري.

غه هېواد د اداري وېش له پلوه پر ۱۶ ولايتونو او يوه ښاروالۍ وېشل شوی دی. لوانگ، پرابانگ، مونک يو، چيپون، بلوون، ماهاکي، مونک هوم او پورې خان د دغه هېواد لوی ښارونه دي.

د لاوس د حکومت ډول کمونيستي دی، د لاوس نوی اساسي قانون د ۱۹۹۱ ز کال د اگست په ۱۴مه نافذ شوی دی. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر بواسون بوفاوانه او لومړی وزير يې بونهانگ ووراچيت دی. په دغه هېواد کې ولسمشر د ولسي جرگې له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د لاوس لومړی وزير او د کابينې وزيران د هېواد د ولسمشر په وړانديز د ولسي جرگې له خوا د پنځو کلونو لپاره کار کوي.

د دغه هېواد د ولسي جرگې ۱۰۹ غړي د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په لاوس کې د رايې ورکولو عمر ۱۸ کاله او رايه ورکول پکې عمومي دي.

د دغه هېواد حقوقي نظام پر عنعنوي دودونو، فرانسوي حقوقي اساساتو او سوسياليستي اصولو ولاړ دی. د دغه هېواد لوړ قضايي ارگان د خلکو ستره محکمه ده، چې قاضي القضات مرستيال او قاضيان يې د دغه هېواد د ولسي جرگې له خوا ټاکل کېږي.

د لاوس دولت چې اوس هم ځان رسماً کمونېست بولي، له ۱۹۸٦ ز کال څخه راپدېخوا پر اقتصاد باندې دولتي څارنه کموي او پر ځای يې خصوصي پانگه هڅوي.

دغه هېواد د اورگاډي پټلۍ نه لري او تر نيمايي زياتې لويې لارې يې خامه دي. د لاوس د ټليفون کورنۍ او بهرنۍ سيسټم محدود دی او بريښنا يوازې په لويو ښارونو کې ليدل کېږي. کرنه د لاوس د ناخالص کورني توليد ۳۰ سلنه جوړوي او د دغه هېواد ۷۵ سلنې خلکو ته يې کار پيدا کړی دی.

وريجې په دغه هېواد کې د کرنې د سکټور غټ محصول بلل کېږي. که وچکالي نه وي، د لاوس کرنه د ټول هېواد د خلکو لپاره خوراکي مواد برابرولی شي.



په دغه هېواد کې د يو کال سېلابونه، طبيعي آفات يا سيمه ييزه وچکالي د هېواد په ډېرو برخو کې د خوراکي موادو کمبود را منځ ته کولی شي. داسې ښکاري چې په راتلونکو کلونو کې به هم د لاوس اقتصاد د ای ام اف او نورو نړيوالو موسسو پر مرستو ولاړ وي.

په دې وروستيو کلونو کې ځينو بهرنيو پانگه والو د خوراکي توکو د پروسس او د کانونو د ايستلو په برخه کې پانگونه کړې، چې يو ښه پيل بلل کيدای شي. جاپان همدا اوس لاوس ته غټ مرسته ورکوونکی هېواد دی. د پخواني شوروي اتحاد او د ختيځې اروپا د نورو هېوادونو مرستې لا پخوا بندې شوې دي، لکه د نورو پرمختيايي هېوادونو په څېر د ځنگلونو پرې کېدنه او د خاورې فرسايش د لاوس د ناخالص کورني توليد د راتلونکي پرمختگ په لاره کې غټ خنډونه بلل کيدای شي.

په ۲۰۰۴ ز کال کې د لاوس او د امريکا د متحده ايالاتو تر منځ عادي سوداگريزې اړيکې ټينگې شوې دي. دې اړيکو لاوسي توليدوونکو ته موقع په لاس ورکړه چې خپل توکي په لږو ماليات صادر کړي.

د گچو ايستل او پروسس، لرگي، بريښنا، د خوراکي توکو پروسس، ساختماني توکي او سيمنټ، ټوکران، جامې او لاسي کارونه د دغه هېواد مهم صنعتي توکي دي.

د لاوس څلور سلنه ځمکه د کرلو وړ ده. د دغه هېواد درې سلنه خاوره څړځايونو او پاتې نوره يې بيا ځنگلونو، غرونو، بيدياوو، سيندونو، ښارونو او د استوگنې کليوالو سيمو نيولې ده. همدا اوس د دغه هېواد ۷۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور پر کار بوخت دي او د هېواد ۳۱ سلنه ناخالص کورني توليدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي. لرگي، وريجې، جوار، قهوه، خواږه، کچالو، تنباکو، سابه، ميوې، غوښه، لبنيات او هگۍ د دغه هېواد مهم کرنيز محصولات بلل کېږي.

دغه هېواد ۴۱ هوايي ډگرونه لري چې ۱۰ يې په پاخه او عصری ډول رغول شوي دي. د دغه هېواد د ټيليفون کود ۰۰۸۵٦ او د انټرنېټ کود يې LA دی، چې ټولټال يې ۴۰۰ زره کسان لاسرسی ورته لري.

په دغه هېواد کې دوه ټلوېزيونونه فعاليت کوي، چې يو دولتي دی او بل د دولت او يو تايلنډي شرکت له خوا په گډه اداره کېږي.

لاوس د ناخالص کورني توليد او سړي سرکلني عايد په حساب، د آسيا او نړۍ يو وروسته پاتې هېواد بلل کېږي، خو پاتې دې نه وي چې لاوس د ښکلو پارکونو، شنو غرونو، دښتو او طبيعي ښکلا او تاريخي مانيو درلودونکی هېواد دی، چې د نړۍ له گوټ گوټ څخه هر کال زيات شمېر سيلانيان ورته راځي او په دغه هېواد کې د لنډې مودې لپاره پاتې کېږي، چې دا د لاوس هېواد پر اقتصاد باندې مثبت اغېز کوي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۰ سلنه خلک پر ليک او لوست پوهيږي. په لاوس کې زده کړه له ٦-۱۰ کلنو ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره وړيا او جبري ده.

د لاوس قوم په ۱۳مه پېړۍ کې د چين له جنوبي سيمې بوتان څخه د جنوب پر لور د کمبوديا د امپراطورۍ سيمې ته وشړل شو. دوی څو پېړۍ د دې ستر واکۍ په قلمرو کې تېرې کړې، خو د خپلې استوگنې په سيمو کې يې کوچني او کمزوري حکومتونه جوړ کړي وو. د وخت په تېرېدو د لوانک پرابانگ د سيمې واکمنو له خونړيو جگړو وروسته، د ډېرو نورو سيمو محلي فيوډالانو ته ماتې ورکړه او د نننۍ لاوس او تايلنډ په شمالي برخو کې يې د لانگزانک پاچايي جوړه کړه. په ۱۷مه پېړۍ کې دغه پاچايي پر دوو هېوادونو ووېشل شوه. لومړی وين تيام چې په ۱۸۲۷ ز کال کې سيام نننۍ تايلنډ ونيو او دويم لوانگ پرانگ چې دواړه د کمزورتيا په وجه د سيام او آنام له پرله پسې گواښونو او يرغلونو سره مخ وو. د لاوس دواړه حکومتونه د ۱۹مې پېړۍ له پيل څخه تر ۸۵ کلونو پورې د سيام تر لاس لاندې وو. په ۱۸۹۳ ز کال کې د هند و چين په ټاپووزمه کې د فرانسويانو نفوذ زيات شو او لاوس يې هم ونيو. دې واکمنۍ تر ۱۹۴۵ ز کال پورې دوام وکړ. په همدغه کال کې چې دويمې نړيوالې جگړې دوام درلود، لاوس د جاپاني پوځونو لاس ته ورغی. يو کال وروسته بيا فرانسويانو دغه هېواد ونيو. په ۱۹۴۷ ز کال کې فرانسويانو پرېکړه وکړه چې لاوس د خلکو د خپلواکۍ غوښتنې غورځنگ د هڅو له امله دغه هېواد ته کورنۍ خپلواکي ورکړي او په دې توگه په لاوس کې د لوانگ پرانگ د کورنۍ په مشرۍ پارلماني پاچايي جوړه شوه. وروسته بيا د لاوس خلکو د هېواد د پوره خپلواکۍ لپاره مبارزې جدي کړې، له همدې امله فرانسويانو د فرانسې د اتحاديې په چوکاټ کې دغه هېواد ته پوره خپلواکي ورکړه.

په ۱۹۵۳ ز کال کې د لاوس د خلکو يا پاتت لاو کمونيستي غورځنگ د شهزاده سوپانا وونگ په مشرۍ، په شمالي ويتنام کې جوړ شو. د پاتت لاو جلا وطنه حکومت په ۱۹۵۳ ز کال کې د شمالي ويتنام او چين په مرسته د لاوس په شمالي سيمو کې ځاي پر ځای شو او په دغه هېواد کې خونړۍ کورنۍ جگړې ونښتې. د جينوا د ۱۹۵۴ ز کال نړيوال کنفرانس دغه جگړې پای ته ورسولې او پرېکړه يې وکړه، چې د لاوس دوه غټ شمالي ولايتونه دې د پاتت لاو په ولکه کې پاتې وي او په نور هېواد کې دې يو ناپېيلی حکومت جوړ شي. دغه کنفرانس د لاوس د خاورې بشپړتيا او خپلواکي په رسميت وپېژندله .

د افغانستان او لاوس هېواد تر منځ کومې سياسي رسمي اړيکې نشته.

له افغانستان څخه تر لاوس پورې د هوا له لارې فاصله ۳۷٦۷ کيلومتره او همدا راز د کابل او وين تيان ښارونو تر منځ د وخت توپير ۲:۳۰ ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۰ |
| € | ۸۵,۸۰ |
| Rp. | ۴۷۶ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۰,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# که ښه ژوند غواړې، ښه ټاکنه وکړئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي

دا تاسو یاست چې ټاکنه کوئ! ژوند د انتخابونو او ټاکنو ټولګه ده او موږ چې په ژوند کې کومې کړنې تر سره کوو، په اصل کې زموږ له ټاکنو سرچینه اخلي. دا تاسو یاست چې ټاکنه کوئ! غواړئ ټوله ورځ د خوب په بستره کې پرېوځئ او که غواړئ را پورته شئ، دندې ته مو لاړ شئ او یا مو نور کارونه سرته ورسوئ؟ موږ چې څه شی انتخابوو، په اصل کې زموږ د شخصیت ښکارندویي او استازیتوب کوي. هغه څه چې زموږ د شخصیت ښکارندویي کوي، هغه زموږ وړتیاوې نه دي، بلکې ټاکنې مو دي. که تاسو ناسمه پرېکړه کوئ، هغه ده چې له ناوړه پېښې سره به مخ کېږئ. د دې موضوع برعکس هم دغه ډول دی.
یوه کس درې مزدوران درلودل او د یوه سفر لپاره یې تیاری نیوه. دې کس خپل یوه مزدور ته پنځه چلونه یا وړتیاوې ور زده کړې، دویم ته یې درې چلونه ور زده کړل او دریېم ته یې یو چل ور زده کړ او په سفر یې واستول. لومړی مزدور چې یو څه ځیرک و، پر خپلې هرې وړتیا یې یوه بل وړتیا هم ور زیاته کړه او ټولې یې لس وړتیاوې شوې. دویم پر خپلو دریو وړتیاوو درې نورې وړتیاوې ور زیاتې کړې او د شپږو وړتیاوو درلودونکی شو، خو دریېم کس له خپل مشر څخه د وېرې له کبله هماغه یوه وړتیا او چل له ځان سره وساتل. دا کیسه همداسې دوام لري... خو زه چې څه غواړم، د دې کیسې په همدې لړې برخه کې سپړل شوې دي.
هر مزدور خپله پرېکړه وکړه او پایله یې هم ولیده. نو که تاسو هم غواړئ چې بریالي شئ، همدا نن باید پرېکړه وکړئ.
ځینې وخت وېره د دې لامل کېږي، چې نور خلک زموږ په اړه او زموږ پر ځای پرېکړه وکړي. ژوند مو په تاسو پورې اړوند دی او د ژوند د موټر چلوونکي خپله تاسو یاست. هېڅوک حق نه لري چې ستاسو په اړه او ستاسو لپاره تصمیم ونیسي او پرېکړه وکړي. دوی یوازې هغه وخت دا کار کولای شي چې تاسو اجازه ورکړئ. دغه راز که تاسو د نورو د غبرګونونو او قضاوتونو پر اساس پرېکړه وکړئ، هغه وخت به مو هم سمه پرېکړه نه وي کړې. توپ ستاسو په واک او ستاسو په څمکه کې دی. دا تاسو یاست چې پرېکړه کوئ او خپله راتلونکې ټاکئ چې باید څه ډول وي. که غواړئ په علمي برخه کې بریالي وئ، باید پرېکړه وکړئ چې پر ځینو شیانو سترګې پټې کړئ او مطالعه پیل کړئ. تاسو تل په مخ کې دوې لارې لرئ، ژمنتیاوې او وېرې.
غواړئ مشهور او شتمن شئ؟ غواړئ ټوله نړۍ مو په ښه نوم یاد کړي؟ غواړئ په سوداګرۍ کې بریالي وئ؟ غواړئ د نړۍ ټول خلک ستاسو خبرې واوري؟ غواړئ پر خپل معنوي ژوند کار او پانګونه وکړئ؟ که هر څنګه وي، نو همدا نن یوه ښه پرېکړه وکړئ او لاس پکار شئ. زه د دې کار لپاره ستاسو په مخ کې دوې لارې وینم؛ سمه لار او ناسمه لار. دا تاسو یاست چې د ځان لپاره کومه یوه غوره کوئ. زه هیله من یم چې په پوره انرژۍ ور باندې تمرکز وکړئ.
په ژوند کې درې کلمې ټاکنه، رېسک (خطر) او بدلون موجود دي، چې تاسو باید ور سره په اړیکه کې اوسئ. تاسو باید دا ومنئ چې رېسک منوونکي اوسئ، که نه؛ پرته له خطر منلو مو په ژوند کې بدلون نه راځي. زه پر دې خبره پوره یقیني یم چې ژوند د هغو ټاکنو ټولګه ده چې تاسو یې کوئ. تاسو چې څومره غوره او پر ځای ټاکنه کوئ، په ډېر احتمال به مو ژوند هم غوره او له خوښیو ډک وي.
سټیوجابز وایي: «تر ټولو غوره او لویه وسیله چې د خپل ژوند د ښه کولو لپاره مې ترې ګټه اخیستې ده، هغه دا جمله ده چې ډېر ژر به مړ شم؛ ځکه ټولې هیلې، وياړونه، له ماتې څخه وېره یا شرمېدل او دې ته ورته نور موارد؛ هغه وخت له منځه ځي چې له مرګ سره مخ شې. یوازې له هغه څه سره ژوند وکړئ چې ارزښتمن وي».
زه داسې کسان پېژنم چې ناست دي او ټوله ورځ له خپل بد اقتصادي وضعیت څخه سر ټکوي، خو له دې وضعیت څخه د راوتلو لپاره لاس پکار کېږي نه. دوی د اوسني وضعیت له کبله خپل مور او پلار ګرم ګڼې چې ګواکې ولې پر خپل وخت لاس پکار شوي نه دي او د دوی لپاره یې شتمنې او جایدادونه په میراث نه دي پرې اېښي. ایا تاسو هم غواړئ په همدې موقعیت او حالت کې پاتې شئ او لاس تر زنې کېنئ؟ انتخاب وکړئ او پرېکړه وکړئ، غواړئ څه ډول ژوند وکړئ؟ د نورو خلکو په خبر مه اوسئ، چې ژوند هر څه ور باندې راولي، دوی یې منې او مخه یې نه نیسي. هر څه خپله کنټرول کړئ او د راتلونکې په اړه ښه پرېکړه وکړئ.
ژوند دوې اصلي ټاکنې یا انتخابونه لري: د اوسنیو حالاتو او شرایطو منل او یا هم د همدې شرایطو له بدلون وروسته د عواقبو او پایلو منل. په ژوند کې ځینې ټاکنې د وخت محدودیت لري. دا سمه ده چې پرېکړه باید په خورا دقت سره وشي، خو که ډېر ځنډ پکې راشي، کېدای شي فرصت مو له لاسه ووځي. ځینې وخت شکونه او تردیدونه د دې لامل کېږي، چې موږ له هغو پرېکړو منع کړي، چې زموږ په ژوند کې د مثبت بدلون لامل کېږي. زما مطلب دا دی چې په دقت پرېکړه وکړئ، خو پام مو وي چې فرصت له لاسه ورنه کړئ.
موږ ټول په ټاکنه کې خپلواک یو. موږ خپلواک یو چې د طبیعت له قانون سره همغږي کوو او که سرغړونه ترې کوو. دا ستاسو ټاکنه ده چې د هر څه پایلې تعریفولای شي. تر اوسه هېڅوک نه دي توانېدلي او نه هم توانېدلای شي، چې د خپلو ټاکنو له پایلو تېښته وکړي. که زموږ د ژوند شرایط یا زموږ د ټاکنو پایله هر ډول وي، د وخت په تېرېدو ور سره روږدي کېږو. دغه څه د مرګ تر ورځې پورې دوام کوي او په پایله کې ویلای شو چې د ټاکنې مسوولیت مو پر خپله غاړه دی.

## سرچینه: حکومت د مصارفو د زیاتوالي له کبله له افغانستان بانک څخه نورې لس میلیارده افغانۍ غواړي

حکومت د بودجې برابرولو، د مامورینو د معاشونو اجرا کولو او نورو مصارفو لپاره له افغانستان بانک څخه د ۱۵ میلیاردو افغانیو اخیستو په تعقیب، تازه لس میلیارده نورې افغانۍ غواړي.
د افغانستان بانک او حکومت تر منځ پر دې اختلاف دی چې حکومت دغه لس میلیارده افغانۍ په سملاسي توګه غواړي، خو افغانستان بانک د حسابونو له تصفیې مخکې چې په جوزا میاشت کې تر سره کېږي، د پیسو ورکولو ته چمتو نه دی.
د افغانستان بانک عالي شورا تېره ورځ پر دې مسئله ناسته درلوده، خو د دې ناستې جزیات تر اوسه نه دي په ډاګه شوي.
په ورته وخت کې یوې حکومتي سرچینې ویلي، دولت د عوایدو او بودجې په برخه کې خپل هدف ته نه دی رسېدلی او اوس د معاشونو او مصارفو لپاره د پیسو له کمبود سره مخ دی.




د اقتصادي چارو شنونکي بیا وایي چې د طالبانو د سقوط پر مهال چې کله کرزی واک ته ورسېد، د افغانستان بانک ذخیره ۱۸۰ میلیونه ډالره وه، خو د کرزي په وخت کې دغه ذخیره زیاته شوه او کله یې چې حکومت اشرف غني ته سپاره، د افغانستان بانک ذخیره اووه نیم میلیارد ډالره وه. د دوی په باور، په تېر حکومت کې د عوایدو او مصارفو تر منځ یو بېلانس و، حکومت خپله بودجه پخپله برابروله او د افغانستان بانک له ذخیرې څخه یې پیسې نه اخیستې، ځکه که دا کار یې تر سره کړی وای، د افغانستان بانک ذخیره له ۱۸۰ میلیونو ډالرو څخه اوو نیم میلیارد ډالرو ته نه رسېده.
د چارو شنونکي وایي، حکومت باید د عوایدو او مالیاتو پیسې د پلان مطابق د عادي او انکشافي بودجې له لارې مصرف کړي، خو ارګ دا پیسې پر ټاکنیزو کمپاینونو، غیر ملي او پراتیفي مسایلو کې لګولې دي، نو ځکه اړ شوی چې له افغانستان بانک څخه پیسې وغواړي.
که څه هم د مالیې وزارت او افغانستان بانک چارواکو په دې اړه څه نه دي ویلي، خو د ولسي جرګې ځینو غړو د حکومت له لورې له افغانستان بانک څخه د پیسو انتقال د ملي شورا له مصوبې پرته د قانون خلاف عمل بولي.
دوی ویلي چې ولسمشر او د مالیې وزارت د دې صلاحیت نه لري، چې د افغانستان بانک له ملي ذخیرې څخه پیسې مالیې وزارت ته انتقال کړي.

## کابل ښاریان: د جنايي جرمونو او پېښو زیاتېدو سخت اندېښمن کړي یو

پر امنیتي ستونزو سربېره، کابل ښاریان وایي چې په دې وروستیو کې د جنايي جرمونو پېښې زیاتې شوې، چې دوی یې سخت اندېښمن کړي دي.
علي سینا مظفري چې په ماشومتوب کې د مور او پلار له سیورې بې برخې شو، څلور ورونو په ډېرې خوارۍ تر پوهنتون ورساوه.



نومړی د کابل پوهنتون د ژورنالېزم پوهنځي د دریېم ټولګي محصل و، چې یو کال یې تعجیل واخیست او د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې یې زده کړې پیل کړې، خو وسله والو غلو نومړی ورمه شپه له لوټلو وروسته د چړې پر ګزارونو وژلی دی.
د مظفري د کاکا زوی محمد ضیا مظفري په دې اړه ویلي: «تېره (ورمه) شپه علي سینا له پوهنتون نه راغی، ما ته یې زنګ وواهه چې سرک ته رسېدلی یم، ورته مې وویل چې درشم، ویل یې نه اوس کور ته رسېږم، شپږ دقیقې وروسته یې راته زنګ وواهه چې زه غلو په چاقو ووهلم، زه چې راغلم، غله تښتېدلي وو، په دغه کوڅه کې چې علي سینا یې وهلی، څو غلاوې شوې دي».
قدیر مظفري د علي سینا ورور چې دی ورته په کوچنیوالي کې یتیم پاتې شوی و، ویلي چې ځوانیمرګ ورور مې نړۍ ارمانونه له ځان سره ګور ته یوړل.
هغه له حکومت او امنیتي ځواکونو غوښتي چې ژر تر ژره یې د ورور قاتلین ونیسي.
نوموړي زیاته کړې: «د خبرو توان نه لرم، زه له اړوندو ارګانونو غواړم چې په هېواد، په ځانګړې توګه په کابل کې امنیت ټینګ کړي، موږ نن یو علي سینا له لاسه ورکړ، که د امنیت غم ونه خوړل شي، لسګونه نور به هم له لاسه ورکړو».
کابل ښاریان دغه راز وایي چې له ماښام وروسته د غلو او مجرمینو له ډاره له کوره د باندې نه شي راوتلای.
د دوی په خبره، د امنیتي ارګانونو د نه پاملرنې له امله هره شپه په کابل ښار کې غله خلک لوټي او که یې مقاومت وکړ، وژني یې.
په ورته وخت کې کورنیو چارو وزارت که څه هم د رواني جدي میاشتې د قتلونو او غلاوو په اړه معلومات نه ورکوي، خو وایي چې یوازې په تېرې قوس میاشت کې په کابل ښار کې ۲۳۰ جنايي پېښې شوې، چې په تړاو یې ۲۴۱ تنه نیول شوي او په دوی کې ۳۳ یې قاتلین دي.
د کابل امنیې قومندانې په کابل ښار کې د جرایمو زیاتوالی منې خو وایي، یوازې په تېرو پنځلسو ورځو کې د غلاوو، اخلاقي فساد او قتل په تور دوی ۴۳ تنه نیولي دي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com



دوشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د جنوري شپږمه | ٤۹۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily



| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۱۰ | ۱۳ | ۸ | ۸ | ٤ |
| -۷ | -۲ | ۲ | ۲ | ۳ | -۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۱ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۲:۳۸ | ماښام ۰٤:۵٦ | ماخوستن ۰٦:۲٦

## نړۍ




## الشباب ډله: په کېنیا کې د امریکایي ځواکونو پر اډې په برید کې درنه مرګ ژوبله اوښتې ده



د سومالیا الشباب وسله والې ډلې ویلي چې د کېنیا په ساحلي ښار لامو کې یې پر هغې اډې برید کړی، چې امریکایي پوځیان ترې استفاده کوي. دوی ادعا کړې چې په دغه برید کې یې امریکایي ځواکونو ته درنه مرګ ژوبله اړولې ده.

په ورته وخت کې امریکایي پوځیانو ویلي چې دغه برید تېره ورځ سهار مهال شوی، خو د مرګ ژوبلې په تړاو یې څه نه دي ویلي.

بلخوا عیني شاهدانو ویلي چې برید د یو موټربم په چاودنه پیل شو او بیا ځینو سخت دریځو ډزې پیل کړې.

د کېنیا دفاع وزارت بیا په یوه اعلامیه کې ویلي چې له بریدګرو سره په جګړه کې یې څلور یاغیان وژلي دي. د دې اعلامیې له مخې، د الشباب یاغیانو غوښتل پوځي اډې ته ننوځي او بریدونه وکړي.

د یادونې ده چې دا په کېنیا کې پر امریکایي پوځیانو باندې د الشباب لومړنی برید و. دغې ډلې پخوا د ننه په کېنیا کې پر ملکي اهدافو لکه پر ښاري بسونو، ښوونځیو او پلورنځیو بریدونه کړي دي.

د کېنیا د لامو ساحلي ښار کمېشنر ایرونګو مچایرا، اسوشیټېډ پرېس اژانس ته ویلي چې پنځه تنه د دغه برید په تړاو نیول شوي او ترې تحقیقات کېږي.

په ورته وخت کې د الشباب ډلې په یوه اعلامیه کې ادعا کړې چې د دغې پوځي اډې یوه برخه یې نیولې او درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

## بریټانیا: سمندري ځواکونه به له دې وروسته په هورمز تنګي کې زموږ بېړۍ بدرګه کوي



د بریټانیا دفاع وزیر بن والاس ویلي، د دغه هېواد سمندري ځواکونه به په هورمز تنګي کې هغه بېړۍ بدرګه کوي، چې د بریټانیا بیرغ ورباندې راځوړند وي.

دا په داسې حال ده چې په عراق کې د امریکا له خوا د ایران د یوه پوځي قوماندان قاسم سلیماني وژل کېدو په سیمه کې کړکېچ اوج ته رسولی او تازه نښتو او جګړو ته یې لاره هواره کړې ده. د بریټانیا دفاع وزیر زیاته کړې چې ده خپلو سمندري ځواکونو ته امر کړی، چې د تېلو د لېږد پر دغې لویې کرښې نوې بدرګې ته چمتو شي.

والاس په یوه اعلامیه کې ویلي، حکومت به اوسمهال د خپلو بېړیو او اتباعو د خوندیتوب لپاره ټول لازم اقدامات وکړي.

د والاس دغه څرګندونې په داسې حال کې دي چې د بریټانیا پر لومړي وزیر بوریس جانسن نیوکې کېږي، چې د امریکا له خوا د سلیماني د وژل کېدو په اړه یې ولې څه نه دي ویلي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم ایران په هورمزتنګي کې د بریټانیا یوه تېل وړونکې بېړۍ برمته کړې وه، چې وروسته د ایراني بېړۍ د ازادېدو په بدل کې یې خوشې کړه. له هغه وروسته امریکا او بریټانیا هڅه پیل کړې چې په هورمزتنګي نړیوالو بېړیو ته د ایران له لوري د متوجه ګواښونو په ځواب کې ائتلاف رامنځ ته کړي.

## مشرانو جرګه: برخی مقام ها حکومتی در هر سه قوۀ دولت قانون اساسی را زیرپا می کنند



اعضای مشرانو جرگه می گویند که برخی مقام ها در هر سه قوۀ دولت قانون اساسی را زیرپا می کنند و در عوض تجلیل نمایشی از هفته تصویب قانونی اساسی باید از نقض قانون جلوگیری شود.

این در حالی است که قانون اساسی افغانستان در سال ۱۳۸۲ توسط لویه جرگه تصویب شد و همه ساله یک هفته به عنوان تجلیل هفته تصویب قانون اساسی مسمی و در آن از تصویب قانون گرامی داشت می شود.

دو روز پیش در نخستین روز هفته تجلیل از قانون اساسی طی محفلی که از سوی کمیسیون نظارت بر تطبیق قانون اساسی در کابل راه اندازی شده بود، سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری گفته است که کاستی ها و مشکلات این قانون در عرصه تطبیق مشخص شده و زمینه باید برای بازنگری آن مساعد شود.

در این حال در نشست دیروز مشرانو جرگه نیز در مورد صحبت شد.

گل احمد اعظمی نماینده مردم فراه در این جرگه بدون ارایه جزئیات گفت که در هر سه قوه دولت ناقضین قانون اساسی وجود دارند و در شانزده سال گذشته برخی مواد این قانون در عمل تطبیق نشده است.


او بر تجلیل از تصویب قانون اساسی انتقاد کرده و افزود: «وقتی که قانون نقض می شود، تجلیل نمایشی بدرد نمی خورد».

غلام محی الدین منصف عضو دیگر این جرگه گفت: «تجلیل از تصویب قانون اساسی به این معنی است که ما پابند قانون هستیم، در حالی که در هر سه قوه قانون نقض می شود، اگر پابندی به قانون نداشته باشیم، تجلیل از هفته تصویب قانون اساسی یک مصرف اضافی است».

وی قانون اساسی کشور را قانون بی نظیر درسطح منطقه خواند و افزود، در صورتی که رئیس جمهور بر تطبیق قانون اساسی تجدید تعهد نکند، تجلیل از تصویب قانون اساسی نمایشی خواهد بود.

## ژوند

## ډېر خوب مو د ژوند له ښایسته بې برخې کوي



پوهېږم چې دا بحث ډېر مینه‌وال نه لري، خو اړینه ده چې په اړه یې یو څه ووایم. ډېری خلک له اړتیا زیات خوب کوي. دا چې دوی ډېر خوب کوي، نو خلک ورته د خوب ګوډی وایي. ډېر خوب د دې لامل کېږي څو د خپل ژوند ډېره غوره او زرین ساعتونه له لاسه ورکړو. دوی له ډېر ګران بیه ډالیو بې برخې کېږي او د خوب له تخت سره په مبارزه کې هم پاتې راغلي وي. دوی د همدې عادت له امله د عظمت او لویوالي فرصت یوازې له لاسه ورکړی وي. په یاد به مو وي چې خوب، د خوب زېږنده دی، هر څومره چې ډېر خوب وکړی، هغومره ورته ډېره اړتیا پیدا کوي. ایا کله مو دغه څه احساس کړي، هر څومره چې ډېر ویده شی، هغومره ټنبل او خوبوړي وی؟ حیرانوونکې ده! که نه؟ خو دا یو حقیقت دی.

هو، پوهېږم چې د ځواک او روغتیا لپاره خوب ته اړتیا لرو او خوب موږ ته یو ځل بیا انرژي راکوي، زما وېره له کچې د ډېر خوب کولو څخه ده، هغه خوب چې عالي انسانان له پرمختګ څخه وروسته پاتې کوي او هغه خوب چې د ژوند پوټنشیل مو راکموي. نو ښه ده چې اندول مراعات شي.

## د لوښو مینځل ښځو ته ذهني ارامتیا ورکوي



پاک کور او له ککړو لوښو پاک پخلنځی د هرې سلیقه درلودونکې ښځې هیله او ارزو وي. ان دا چې په دې برخه کې دوی له ګاونډیانو او خپلو خپلوانو سره سیالي هم کوي. هڅه کوي چې کور یې تر نورو پاک او پخلنځی یې ښکلی وي. د امریکا په فلوریډا ایالت کې په یوه نوې تر سره شوې څېړنه کې ویل شوي، چې د لوښو مینځل په ښځو کې د ذهني ارامتیا لامل کېږي او اعصاب یې ور سره ارامېږي. تاسو به خپله لیدلي وي، چې ډېری ښځې کله یې چې په پخلنځي کې ګډوډي وي، نو د دوی ذهن هم ور سره پاشلی وي او خواشینې ښکاري. په کور کې کار کول تل د ښځو لپاره یوه مسئله وي او هره ښځه غواړي چې په کور کې له کار کولو ځان خلاص کړي او پر وخت یې تر سره کړي، په تېره بیا په پخلنځي کې له لوښو وینځلو. د امریکا ساینسپوهانو اوس د دغو ښځو ستونزه حل کړې ده او په یوه نوې څېړنه کې ویل شوي دي چې که چېرې ښځې غواړي اعصاب یې أرام وي یا له ذهني فشار څخه ځان وژغوري، نو د کور کارونه دې پر خپل ټاکلي وخت تر سره کړي.